Share
Twittern

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۲/۰۶/۱۳

# انځور، تخیل اوتخییل څه شی دي؟

لومړی برخه

انځور او تخیل:
په دې برخه کې به لومړی د انځوراو تخیل په باب وغږیږم، بیا به دتخییل پرتاریخ او تعریف باندې رڼا واچوم او وروسته به د تخیل او تخییل توپیرونه په نښه کړم.
کله چې موږ د انځور یا شعري انځورونو په باب خبرې کوو، په کار ده چې د شعریو ځوییژنونه(تعریفونه)هم وړاندې کړو ځوله دې لارې نه انځوراو تخیل ښه روښانه کړای شو.
د شعر د پیژند(تعریف) په باب له ډیرو پخوازمانو څخه بیلابیل نظریات وړاندې شوي دي او پوهان په دې برخه کې تراوسه کومې کډې پایلې ته نه دي رسیدلي، خوپه دې برخه کې ډیرى ځیرونکي سره په یوه نظردي چې شعرد انسانانو ترټولو پخوانی رامنځ ته شوی هنري پدیده ده او لومړنی نښې نښاني یې هغو سندرو او آوازونوته رسیږي، چې لومړنیو انسانانو به د کار په لړکې له هغونه کټه اخستله.
ډیرى ادب ځیرونکي او شعرپوهان په دې عقیده دي چې شعر مخیله وینا ده. انګلیسي کره کتونکی او شاعر«شللي» ویلي دي:
«... شعرمخیله وینا ده، او تخیل د پیدایښت له پیل نه د بني آدم له شعوري ځانګړتیاوو څخه ګڼل کیږي. په بله وینا: دشعر پیدایښت، د انسانانو له پیدایښت سره یوځای شوی دی»، (ادب مجله، دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۵۶کال، لومړی کنه،۱۹۹مخ.)
کرستوفرکارول په دې برخه کې ویلي دي:
« که هره تولنه په پام کې ونیسواودهنري نوښتونوتاریخ یې وڅیړو،شعربه یې هماغه پخوانی رامنځ ته شوی هنري پدیده وي.»(ادب(مجله)،۱۳۵۶کال،۱۹۹مخ.)
دشعردلرغونوالي په برخه کې ی . ا . هاوزر نومې یوه ویلي دي:
«شعرد ذهن د ښکلا خوښونې له لومړنیو فعالیتونو څخه دی». (ی. ا. هاوزر، ګستره اومحدوده جامعه شناسي، هنراوادبیات، ص ۷۹).
په دې ډول لیدل کیږي چې د شعر دلرغونوالي په برخه کې د ډیرو نظر سره یودی، خو د شعرد پیژند، موخې رسالت او دندو په برخوکې بیا سره په یوه نظرنه دي.
د نړی په بیلابیلو سیموکې د شعرله پاره د پیریو په اوږدوکې بیلابیلو خلکو د خپلوایدیالوژیو، آزمینتونو او پوهې له مخې راز، رازموخې، نوموني، تعبیرونه او ماناوې رامنځ ته کړې دي. افلاطون د خپلو نظریاتو په ترڅ کې، شعرته د یوې لاهوتي ورکړې او الهام په سترګه کتلې او ویلي یې دي:
«شاعرد تفکراو تأمل له مخې شعر نه وایي، بلکې د میوز رب النوع خپلې خبرې مورته د شاعرانو له خولې اوروي. کله چې شاعران شعروایي، نودوی په خپل عادي حالت کې نه وي، بلکې د شاتوله فواري څخه. چې د هنرد آلهي په باغونوکې فواري کوي، خپلې خوږې سندرې راټولوي او دجذبې په حالت کې یې زموږ غوږونو ته رسوي، نو شعرد هنرد آلهي اختراع ده .. » (محمدصدیق روهي «د پښتومعاصرادبیات»، په کابل پوهنتون کې د ماسترۍ د پروګرام له پاره دلکچرونو مجموعه،۱۳۶۳ کال،۹ ــ ۱۰ مخونه.)
ارسطوبیا ویلي دي چې: «دشعرهدف، دخلکو د کرووړو ننداره ده». (لطف علي صورتګر، سخن سنجي، تهران،۱۳۴۱ص ۵۹).
آلماني فیلسوف، امانویل کانت د شعر په باب ویلي دي:
«شعرله دې کبله چې د زړه له هیلوسره، د څیزونو له ښکاره بڼې سره منطبق دی، نود زړه هوسایي او د ذهن د سپیڅلتیا سبب کیږي.» ( سخن سنجي،۱۱۷مخ)
د شلمې پیړی سترفیلسوف، ژان پاول سارتر د شعرپه باب ویلي دي:
«د شعرحکم د انځورګری، مجسمه جوړوني او آهنګ جوړوني حکم دی. په شعرکې وییونه (لغات) د بل څه مانا او دنده نه لري، بلکې د((شي)) په توګه منل کیږي.(رضا براهني، طلا در مس، کتاب زمان،۱۳۴۷،۱۵مخ)
رضابراهني شعر داسې راپیژني:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

«شعر د انسان او طبیعت د یوازیتوب په باغونوکي شورانګیزه، پاکه او له انځورونو ډکه ګډا ده. شعرد ویونو(لغتونو) په واسط د شیانو په منځ کي په ګډا سرکیدل دي.»(سخن سنجي،۲۶مخ)
ځیني بیا شعر دهغي وینا غوند(مجموعه) ته وایي چي دواقعیت، احساس او تخیل هغه موزونه غوټه وي چي د یوټولنیز مطلب درلودونکی وي...(راعي، نظریات ادبي، کابل پوهنتون،۱۳۵۸کال،۱۰۷مخ)
ویلیام وردز ورت وایي چي:
«شعر په آهنګ لرونکي ډول سره د توندو احساساتو او عواطفو کورنی بنه ده»(تیراثر، تیر مخ)
هغه ځوک چي په شعرکي د موسیقي اصل ته په درنه سترګه ګوري، په دي نظردي چي: « شعربل شی نه دی، پرته له موسیقي نه... شعر موسیقي ته رسیدلي وینا ده.»(ډاکتر محمد رضا شفیعي کد کني، موسیقی شعر،۱۳۶۸کال،۲۹۳مخ)
ځوک چي په شعرکي رواني مسایلوته ارزښت ورکوي وایي چي: شعرد تمبول شوو عقدو ځرګندونه ده. او ځیني بیا په دي عقیده دي چي:
شعرد اولسونو ګډ غږ یا کورس دي.
اوس به راشو انځورته. که د شعرپيژند(تعریف) ته ښه پام وشي، نو د شعرله بیلابیلو تعریفونو څخه دا پایله ترلاسه کیږي:
شاعرهغه کوي چي یو ناپیژندل شوي هیواد ته سفروکړي، د ناپیژندل شویو اړیکو په باب وغږیږي، هغه وپیژني او رابرسیره یي کړي؛ ځکه نو ځیني کسان د انځور پيژند یا تعریف داسي وړاندي کوي:
انځور هغه څه دی چي په شعرکي د دوو ځیزونو د اړیکو په باب رامنځ ته کیږي، دا پروسه په هرډول چي وي، انځور نومول کیږي. کله چي وینو، وییونه(لغتونه)سره نښلي، پییل کیږي او عاطفي تړون سره کوي، نو نوی انځور زیږي. او دغه انځورونه بیا بیلابیلي ځانګړني لري، چي د تشبیه د اداتو په مرسته د یوه فکرله عیني کیدو سره مرسته کوي.
الیزابت درو لیکي:
«عیني انځورونه یا تشبیه، د دوو یا څو ځیزونو ترمنځ ورته والی ښکاره کوي ... استعاره په شعرکي ډیر ژورعمل کوي ... استعاره حسي انځور دی، هغه حسي انځور چي قوي حسي، ذهني او عاطفي خواووي لري. دغه حسی انځورونه نور د تشبیه له اداتو څخه کارنه اخلي، بلکي له هغه انډول څخه په ګټي اخیستني چي د انځورونو عیني او ذهني خواوي لري – بریالی کیږي – چي دعینیت پرلوري د خوځون په حال کي زموږحسي بریاوي هم وړاندي کړي.»(اسماعیل نوری علاء، صور و اسباب درشعر امروز ایران،۵۶مخ)
د انځور په باب د نظریاتو په لړکي جورج والي په ښکاره لیکي، کله چي شاعر له کارنه پاتي کیږي او نور شعرنه وایي، زما په نظر دا علت لري، چي نور نو انځورونه له جوړیدو څخه پاتي شوي دي او دحافظي له چیني څخه نه راوزي، په بله ژبه زموږ تخیل خپله پته او لومړنی سرچینه له لاسه ورکړي ده.
کله چي شعر تردي کچي پوري د شاعر په تخیل او انځور جوړوني پوري تړلی دی، نوپه ټینګه ویلای شو چي شعر د یوي نوي اړیکي رابرسیره کول او اوڅیدل دي، د یوه خام فکر روزل دي او دغه کار د وییونو(لغاتو) د نژدي کیدلو له لاري دعاطفي په ګډون سره ښه ترسره کیدای شي.
باید پاملرنه وکړو چي د دغسي فکر روزل او اوڅیدل ټاکلي بریدونه لري چي نه شوکولای له هغو څخه سرغړونه وکړو. په دي لاره کي لومړی برید دادی چي د انځور راوړل او له وییونوسره یي یوځای کول، په هرډول چي وي، باید د یوي اړتیا له مخي ترسره شي. ډیر خلک چي په خپل سر د شعر په ویلو اخته وي، داسي فکرکو چي که چیري له عادي وییونو څخه شعرجوړکړي، نوښه شعربه یي ویلی وي، په داسي حال کي چي په شعرکي د انځورونو راوړل ډیر اړین او ضروري کار ګڼل کیږي.
دانځورجوړولو لومړنی اصل دادی چي شاعرله خپلو آزمیښتونو او ذهني انځورونو څخه په ګټي اخستني، د هغه ادراک په مقابل کي چي دی یي له یوه ټولنیزذهني او عام ځیزڅخه لري، یوجزیي، عیني او ځانګړی ځیز ړدي. په بله وینا شاعرد خپل خا م فکرد روزلو په بهیرکي هڅه کوي نوي وسایل پیدا کړي او دهغوله لاري خپل فکر نورو ته ورسوي؛ نوله دي کبله شعرد انځورونو په درلودلوسره، له یوپیاوړي تمثیلي(سمبولیک) اړخ څخه برخمن دی. دا له دي کبله چي په شعرکي هرویی (لغت)،هرعبارت او هره جمله دیوه ټولنیز، ذهني او عام ځیز برخه ګرځیدلي او ځانګړي شوي بڼه یي ده، چي دهغي ښکارندویي کوي او شاعربیا په دي بهیرکي ځانګړی رول لري. په عادي مفاهیمو او له طبیعت سره د انسان د ژوند په اړیکو کي، یا له طبیعت سره دطبیعت په اړیکوکي دشاعرد ذهن تصرف له اړه د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

دغواړیکو پروړاندې دده د ویښیدو پایله ده، او دشاعر ذهن یوازینی ذهن دی چې کولای شي د دغواړیکو د احساساتو په وخت کې راویښ شي، ترډیرو لروځایونو پورې رسیدلای شي او دا اړیکې ډیرې پراخیدلای شي؛ حتی د طبیعت په کچه او د بشري فرهنګ په کچه.
د انسان د ژوند هره برخه د طبیعت له یوې برخې سره په څو ډوله پیوند او اړیکې لري او له دغو پیوندونو او اړیکوڅخه کله کله شاعر یو پیوند او یوه اړیکه احساسوي او دهغې پروړاندې راویښیږي، هڅه کوي او دخپل ویښوالي پایله موږته د انځورونو په مرسته رابښیي. شعرد شاعرد همدغوهاندونو او هڅو پایله ګڼل کیږي چې د انځورونو یوغونډ یې هم بللای شو.
ځینې خلک د څیرې، خیا ل او انځور نومونه د اروپایي ایما ژ(image) د ویي پروړاندې کاروي. دغه ډله خلک استدلال کوي:
«هغه څه چې اروپایی کره کتونکي ایما ژ(image)بولي، په حقیقت کې د هنري څرګندونو د امکاناتوغونډ دی چې په شعرکې رامخته کیږي او د تشبیه ګانو، استعارو، مجازي اسنادو، کنایو او ذهني انځورونو د وړاندې کولوډول دی. له دې کبله موږ د انځوراو خیال نومونه، د انګریزي ایماژ(image)پروړاندې غوره کړې ده.»(دکترمصور رستګار، تصویرآفریني درشهنامه فردوسي،۱۳۵۳،ص:ب )
د انځور جاج او پیژند نورهم کیدای شي و پلټل شي او دهغه په ترڅ کې کیدای شي چې د انځور بشپړ پیژند ترلاسه شي. له بده مرغه چې زموږ په ادبیاتوکې د انځور داسې تعریف چې د ښکلا پیژندنې پر اساساتو ډ ډه ولګوي، نه دی وړاندې شوی، اوداسې هم شوي دي چې په شعرونوکې انځورپه نظرکې نه دی نیول شوی؛ خو اوس باید دغه کارته ټینګه پاملرنه وشي، ځکه چې اوسنی شعرد انځورونو شعردی، له همدې امله دغه پیژند یا تعریف د انځور دیوه پیژند په توګه وړاندې کیږي، کیدای شي د ځینو قناعت وروګرځي:
په یوه ټاکلي ټکي کې د وییونو(لغاتو) په وسیله، له دوو نړیو څخه، د دوو سره ناورته څیزونوغوټه کولوته انځور ویل کیږي. دغه دوه یا څوڅیزونه ښایي عاطفي یا فکري ظرفیتونه ولري او د دود له مخې په بیلابیلو وختونو او ځایونو پورې اړه ولري، چې د انځور په وسیله یوه ځای ته سره راټولیږي.
د انځورجوړولو ځواک د تخیل ډیره غوره برخه ده. د تخیل ځواک یا هغه شور او هیجان چې احساسي څیزونه او بیلابیل آزمیښتونه چې په بیلابیلو وختونو او ځایونو پورې اړه لري، په یوه ځانګړې شیبه کې یو دبل ترڅنګه سره اودي او یوله بل سره یې برابروي او په یوه ناپایه شیبه او محدود ځای کې، یو پراخ ډګرانځور وي او وړاندې کوي یې. د تخیل ځواک له طبیعت څخه د انسان ادراک دی، چې په بیلابیلو ډولونویې ورڅخه اخیستنې کړې دي.
تخیل نیغ په نیغه له حافظې څخه توومنه اخلي. تخیل کله کله د حافظې زماني تداوم ساتي او کله کله بیا د حافظې هرڅه سره ګډوډوي، چې د انځورونو په مرسته دغه ګډوډې شوې برخې بیرته یو دبل څنګ کې کیږدي او یوه فکري او عاطفي کړۍ رامنځ ته کړي، له دې کبله ویلای شوچې د انځور جوړونې ځواک هماغه د تخیل ځواک دی.(رضا براهني، طلا در مس،۱۳۴۷، ۷۶_۷۷ مخونه)
انځور داسې یوټولنیز او هر اړخیز ویی دی چې دهرډول تشبیه، هرډول استعارې، هرډول سمبول او هرډول اسطورې مفهوم رسولای شي. په لنډ ډول ویلای شو چې تشبیه او استعاره دواړه انځورونه دي. تشبیه او استعاره په شعرکې ډیر ارزښت لري، ان تردې چې له تشبیه او استعارې څخه پرته، شعر، شعر نه دی.
ویل کیږي چې تشبیه او استعاره  هغه څیزونه دي چې د هغوپه وسیلې سره ځینې څیزونه  پیوندیدای شي. د دې ترڅنګه داسې نظرهم شته چې: تشبیه د انځورونو یوځای کول یا اودل دي.
انځور د انسان او طبیعت ترمنځ داړیکو څرګندوی دی. د انځورله لارې د ذهني او رواني غوټو په پرانستلولاس پورې کیږي. رضا براهني په «طلا درمس» کې د انځور دبحث په لړکې په دې ټینګارکوي چې انځورونه د استوګنې چاپیریال ته اړتیا لري چې ښه ټینګ شي او ژوند وکړي؛ نوپه یوه شعرکې لومړی باید د انځور له پاره داسې چاپیریال ولرو چې دهغه له پاره د استوګنې وړ وي او دغه انځور او دهغه د اوسیدو چاپیریال باید له یوبل سره سازګاري ولري.که چیرې د شعر د رامنځ ته کیدو په شیبه کې شعرپه درست ډول درک شوی وي، نو انځور او دهغه د اوسیدو دچاپیریال ترمنځ به کوم تناقض نه وي.
په دې ډول په انځورکې له بهرنې اړخه وییونه او له د ننني پلوه احساسات او اندونه نورهم سره ټینګیږي او بیلابیل حا لتونه سره یوځای کیږي؛ نوله دې کبله د انځور اغیز دشعرد نورو برخو په پرتله پرلوستونکو باندې ډیردی. په همدې لړکې رضا براهني د انځور په باب زیاتوي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په شعرکي صفتونه کيدای شي په دوو ډولونو وويشل شي: مجرد صفات، عيني صفات. د مجردو صفتونو په برخه کي بايد وويل شی چي مجرد صفتونه حتی کله کله کولای شي چي د شعرډيرتياره ګوټونه رڼا کړي، خو داسي هم کيدای شي چي د شعرعيني ځواک لږکړي. شاعر بايد مجردو صفاتوته عينيت ورکړي، يا د دغوصفتونو له کارولو څخه ډډه وکړي او داسي صفتونه و کاروي چي له يوه عيني ځيز څخه سرچينه اخلي. عيني صفتونه کله کله کولای شي چي انځورونه هم وړاندي کړي. انځورتل هڅه کوي چي شعرد درک او لمس وړشي. دعيني صفتونو په منځ کي تل کولای شوچي د تشبيه او استعارې روح پيدا کړو. پردې برسيره په عيني صفتونوکي نندارېز(نمايشي) خوا ډيره محدوده ده.
مجرد صفتونه دشعر، شعاري ځواک کموي، عيني صفتونه بايد درښتيني انځور تړلي ځانګړني ولري.عيني صفتونه بايد له خپلي ښکلاسره، ښه منځپانګه هم ولري. ښه شعر عيني صفتونو او عيني انځورونوته اړتيا لري، وصفي شعرله طبيعت څخه د انسان هغه اخيستنه او پيلامه ده چي دی په کې ژوند کوي.(دزياتو معلوماتو له پاره وګورئ: طلا در مس،۸۶ـ ۸۷ مخونه)
د انځور په باب دپاسنيو خبرو په پايله کي ويلای شوچي انځور د شعربنسټيزرکن دی او شعرته هنرمندانه رنګ ورکوي او په پای کي ويلای شوچي انځور د شعري ژوند اوج دی او د شعرهنري جوهرله انځورونوڅخه جوړيږي.
د بيان د پيژندونو(تعريفونو) په باب چي کوم مطالب په بيلابيلو کتابونوکي راغلي دي، د مفهوم له مخي ټول سره ورته دي. دغه راز په بيلابيلو برخوباندي د بيان ويش هم څه نا څه ورته والی او توپيرونه سره لري. د لته به دهغوڅيرونکو کارونو ته نظروکړو چي له دوديزو نومونو سره سم يي د انځور د ډولونو له پاره کوموبرخوته سيده نغوته(اشاره) کړې ده:
استاد عبدالروف بينوا په «ادبي فنون» نومي اثرکي، بيان پر دغوبرخوباندې ويشي:
تشبيه، مجاز، کنايه.(ادبي فنون۲۲،۱۳۲۶مخ)
دبيان دغه درې ګوني برخي بيا په خپل وارسره په جلا جلا څانګو او برخو باندې ويشي چي هره برخه يي ديوه جلا انځور ښکارندويي کولای شي.
په استاد بينوا پسي، ځينو نورو ليکوالو د استاد دغه ويش په تکراري ډول را اخيستی دی په دې توپير چي کنايه يي ور اضافه کړې ده او په بيان کې يي تشبيه، حقيقت او مجاز، استعاره او کنايه راوستي دي.
کوم درسي نوټ چي د دارالمعلمينونو له پاره د «بديع او بيان» ترنامه لاندې په ۱۳۵۳کال کي دپوهني وزارت له خوا خپورشوی دی، هلته هم د بيان د علم له پاره دغه درې ګوني برخي په نښه شوي دي:
تشبيه، مجاز، کنايه.(بديع اوبيان، د کابل عالي دارالمعلمين،۱۳۵۳، ۲۴مخ)
او بيا هره برخه په جلا جلا څانګو ويشل شوې ده چي بيا هم هره يوه برخه يي د انځور ديوډول په نامه نومولای شو.
د کابل پوهنتون ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتوڅانګي له خوا د « ادبي فنون » ترسرليک لاندې يو درسي کتاب خپورشوی، هلته هم دبيان له پاره دغه درې برخي ښودل شوې دي:
تشبيه، کنايه، مجاز.(ادبي فنون، کابل پوهنتون، ۱۳۶۳،۱مخ)
خوپه ځينو نورو منابعوکي د بيان علم ته نورې څانګي او پاني هم ورښلول شوي دي. جلال الدين همايي په « فنون بلاغت وصناعات ادبي » نومي اثرکي د انځور د دغو ډولونو نومونه راوړي دي:
تشبيه، حقيقت او مجاز، استعاره، کنايه. (فنون بلاغت و صناعات ادبي،۲۲۷ مخ)
شفيعی کد ګني بيا دبيان ډولونه لږ څه زيات ښيي او په دغوبرخوباندې يي ويشي:
تشبيه، مجاز، استعاره، اغراق او مبالغه، کنايه، تشخيص، اسطوره.(صورخيال درشعرفارسي،۴۷مخ)
پوهاند قيوم قويم په «فنون ادبي بيان» نومي اثرکي دبيان له پا ره دغه برخي په نښه کړي دي: کنايه، مجاز او استعاره او تشبيه.( فنون ادبي،۴۹ مخ)
که چيرې دا ويش په نظرکي ونيول شي چي د محاکات په دايره کي تشبيه او استعاره راشي، نوانځوردوه ډولونه لري: تشبيه او استعاره. او که بيا دغه د محاکات کلمه د ارسطو په شان د ميمس په ډول وکارول شي چي په تشبيه او کله بيا پرتخييل اړول شوي ده، بيا هم انځور دغه دوه ډولونه لري؛ خوخبره داسئ نه ده، بلکي زموږ د ادبياتوله نوموونوسره سم نور ډولونه هم په کي راتلای شي. يو نظر داسي دی چي انځوردغه ډولونه لري:
تشبيه، استعاره، اغراق(مبالغه) کنايه، تشخيص، مجاز او اسطوره. بل نظربيا داسي دی چي د انځور په ډولونوکي دغه برخي راتلای شي:
تشبيه، استعاره، کنايه، ابهام، جناس، طباق، تلازم، تمثيل، مبالغه، اسطوره او سمبولونه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

د انځورډولونه کیدای شي له دې نه هم زیات وښودل شي، ځکه په شعرکي په هرنامه چي وي، د انځوراو تخیل راوړل د انځور یوډول شمیرل کیږي. دلته د انځور په بلابیلو ډولونو د پوهانو نظریات راوړل شول، خو په کانکریټ ډول د انځور دډولونو په باب حکم نه شي کیدای.

پاتی بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولـئ